د دافغانستان بانک

# د اعتباري اسانتیاوو مقرره: اداري دستورالعملونه

کال ۱۳۹۸

# لړلیک

## د اعتباري اسانتیاوو مقرره

## لومړۍ برخه

## عمومي حکمونه


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱,۱,۱: | مبنی | (۱) |
| ۲,۱,۱: | موخه او د تطبیق ساحه | (۱) |
| ۳,۱,۱: | اصطلاح ګاني | (۱) |

**دوه یمه برخه:په عمومي توګه د پور ورکړه**

| | | |
| --- | --- | --- |
| ۱,۲,۱: | یوې بانکي اداري ته د مخه (پیشکي) ورکړې | (۲) |
| ۲,۲,۱: | د د مخه (پیشکي) پر وراندې د مکلفیت نه شتون | (۲) |
| ۳,۲,۱: | معلوماتو ته اړتیا | (۳) |

**دریمه برخه: د پور شتون او شرایط**

| | | |
| --- | --- | --- |
| ۱,۳,۱: | د پور اعتباری اسانتیاوې | (۳) |
| ۲,۳,۱: | د پور ورکولو وروستئ مرجع | (۳) |
| ۳,۳,۱: | اضافه برداشتونه (Overdrafts) | (۳) |

**څلورمه برخه: پر ورکړل شوي پور باندې د تطبیق وړ د ټکټاني نرخونه**

| | | |
| --- | --- | --- |
| ۱,۴,۱: | د پور اعتباري اسانتیاوې | (۴) |
| ۲,۴,۱: | د پور ورکولو د وروستی مرجع د پور په اړه د ټکټاني نرخ تعیینول | (۴) |

**پنځمه برخه: د پیشکئ غوښتنه او منظوري**

| | | |
| --- | --- | --- |
| ۱,۵,۱: | غوښتنه: | (۴) |
| ۲,۵,۱: | منظوري او راتلونکي پیسي | (۴) |

**شپږمه برخه: ټکټانه**

۱,۶,۱: د ټکټاني زیاتیدنه ------------------------------------------------------------(۴)

۲,۶,۱: پر نا ورکړل شویو/ پاتي پیشکیو باندې ټکټاني -----------------------------------------------(۵)

**اوومه برخه: د پیشکي بیا ورکړه**

۱,۷,۱: د ټکټاني زیاتیدل ------------------------------------------------------------(۵)

۲,۷,۱: د بیا ورکړې تقاضا ------------------------------------------------------------(۵)

۳,۷,۱ : د پور اخیستونکي له حقونو څخه سترګې پټول -----------------------------------------------(۵)

۴,۷,۱: مخکې ورکړه ------------------------------------------------------------(۵)

۵,۷,۱: د بیا ورکړې طریقه/ روش ------------------------------------------------------------(۵)

۶,۷,۱: د پیسو د کمښت په صورت کې د بیا ورکړې طریقه/ روش-----------------------------------------(۶)

**اتمه برخه: د تضمین د ټکټاني ورکړه**

۱,۸,۱: د تضمین د ټکټاني د ورکړې معنی د مقررې د پلې کیدو نیټه -----------------------------------------(۶)

۲,۸,۱: د دافغانستان بانک لپاره نور زیات تضمینونه -----------------------------------------------(۶)

**نهمه برخه: تضمین**

۱,۹,۱: د تضمین مهال ویش ------------------------------------------------------------(۶)

۲,۹,۱: د تضمین مالکیت ------------------------------------------------------------(۶)

۳,۹,۱: پور اخیستونکی باید د خسارې خطر جبران کړي.-----------------------------------------------(۷)

۴,۹,۱: اضافی تضمین------------------------------------------------------------(۷)

**لسمه برخه: د پور د نه ورکړې په صورت کې د حل لارې**

۱,۱۰,۱: هغه طریقې چې د دافغانستان بانک لخوا د حل لارو په توګه کارول کیږي ---------------------------(۷)

۲,۱۰,۱: د پور اخیستونکي لخوا د وکیل په توګه د دافغانستان بانک ټاکل کیدل ---------------------------(۸)

**یوولسمه برخه: د شپې امانتونو اسانتیاوې**

۱,۱۱,۱: د ټکټاني نرخونه ------------------------------------------------------------(۸)

۲,۱۱,۱: د شپې د امانتونو په حساب کې د لیږلو لپاره غوښتنه ( د ورکړې په نیټه کې) -----------------------(۸)

۳,۱۱,۱: د شپې امانتونه ( مطلوبې شتمنی) نه دي -----------------------------------------------(۸)

**دوولسمه برخه: د مقررې د نافذیدو نیټه: ۱,۱۲,۱: د دافغانستان بانک د عالی شورى لخوا منظوري ---------(۸)**

## لومړئ برخه

## عمومي حکمونه

**۱،۱،۱: مبنی:**
دغه مقرره او اداري لارښوني د دافغانستان بانک قانون د دريمي، نهه شپيتمي، اويايمي، اووه اتيايمي او اته اتيايمي مادو سره سم وضع شوي ده.

**۲،۱،۱: موخه او د تطبيق ساحه:**
دغه مقرره او اداري لارښوني هغه احکام رانغاړي چي د هغه پر بنسټ د دافغانستان بانک د افغانی اسمي پورونو اسانتياوي بانکي ادارو او د بانکي ادارو هغه د افغانی اسمي امانتونه (Deposits) قبلوي چي د ټکټاني درلودونکي وي. د دافغانستان بانک د پولي سياست د بنسټيزو موخو او د مالي نظام د ثبات او سالم سيستم په پام کي نيولو سره، خپلي اعتباري اسانتياوي ورکوي.

**۳،۱،۱: اصطلاح ګاني:**
پدي مقرره کي لاندي اصطلاحګاني دغه مفاهيم افاده کوي، مګر داچي محتوی بل ډول صراحت ولري:

1. **حساب:** د يوي بانکي اداري هغه جاري حساب او يا هم دي ته ورته حسابونو ته ويل کيږي چي د دافغانستان بانک سره وي.
2. **مخکي ورکړه:** د پور په بڼه پور اخيستونکي ته د پور ورکړي ته ويل کيږي چي پدي کي د پورنوي کول او يا هم د هغه تمديدول هم شامل دي.
3. **د پيشکی د بيا ورکړي مبلغ:** د مخکي ورکړي مبلغ جمع ټولي اړوندي او نا ورکړل شوي ټکټاني رانغاړي.
4. **بانکي اداره:** يو سوداګريز بانک ته ويل کيږي چي د دافغانستان بانک لخوا ورته جواز ورکړل شوی وي او يا هم د بهرنيو بانکونو نمايندګی ته ويل کيږي چي د دافغانستان بانک لخوا يي د فعاليت اجازه ترلاسه کړی وي.
5. **پور اخيستونکی:** هغه بانکي اداري ته ويل کيږي چي له د دافغانستان بانک څخه يي پور اخيستی وي.
6. **تضمين:** ټول حقونه، مالکيت او په املاکو کي د پور اخيستونکي ټکټانه چي سره زر، بيه لرونکي فلزونه او کاني؛ بانکنوټونه او يا هم د افغانی سکي چي په اسانی سره تبادله کيږي، رانغاړي؛ هغه اعتباري بيلانسونه چي د دافغانستان بانک، بهرنيو مرکزي بانکونو او يا هم د نورو مالي ادارو د ثبت په کتاب کي په هغو بهرنيو اسعارو باندي چي په اسانی سره تبادله کيږي، د ورکړي وړ وي؛ هغه اعتباري بيلانسونه چي د دافغانستان بانک او يا هم د نورو بانکي ادراو د ثبت په کتاب کي په افغانی د ورکړي وړ وي؛ د مبادلي صورت حساب، د پوراينې/ اعتباري پاني او د پور داسي نور تضمينونه چي په بهرنيو اسعارو په اسانی سره تبادله کيږي، د ورکړي وړ وي؛ د پور هغه تضمينونه چي د دافغانستان بانک او يا هم د مالي وزارت لخوا په افغانی صادر شوي وي او د (بيه لرونکو پاڼو) يوه برخه جوړوي؛ د ګودامونو رسيدونه او نور هغه سندونه چي د اړينو توکو او يا هم د نورو توکو لپاره چي د زيان د خطر پر وړاندي بيمه شوي وي، صادريږي. همدا ډول تضمينونه بايد: (الف) په موده ايز پروګرام کي تضمين کوونکی شخص بايد وپيژندل شي، يا (ب) د دافغانستان بانک د ثبت په دفتر او يا هم په سوابقو کي وپيژندل شي؛ چي ټول نقدي او غير نقدي عوايد او ټول ورکړل شوي مبلغونه او يا هم د اوسنيو معاملو او مخکينيو معاملو ټکټاني، د وندو ګټي، بيمي، اجاري او د پيسو بيرته ورکړي رانغاړي خو ورته محدوديږي نه.
7. **د تضمين موده ايزه پروګرام:** د ژمن شوي تضمين هغه صورت حساب ته ويل کيږي چي مالي مکلفيت تأمينوي.
8. **د پور د نه ورکړي حالت:** هغه حالت ته ويل کيږي چي پور اخيستونکی د سررسيد په موده کي د پور د بيا ورکړي او يا هم د هر مالي مکلفيت د جبران وړتيا ونلري او يا هم هغه حالت ته ويل کيږي چي د دافغانستان بانک د پور اخيستوونکي د مالي وضعيت او يا هم د مالي مکلفيت د ترسره کولو لپاره د پور اخيستونکي د وړتيا په پام کي نيولو سره د دي مقرري لاندي د دافغانستان بانک خپل ځان نا خوندي وګڼي.

9. **پوراینې:** د پوراخیستونکي په حساب کې ورځنیو او شپنیو ټولیزه اضافه برداشتونو ته ویل کېږي چې جریمې او لګښتونه په کې شامل دي.

10. **غوښتنلیک:** پر کاغذ لیکنې، د برېښنا لیک یا د ټیلیفکس له لارې لیکلي غوښتنلیک ته ویل کېږي چې د دافغانستان بانک ته د منلو وړ وي. د دافغانستان بانک د خپل واک په پام کې نیولو سره کولای شي هغه غوښتنلیک چې د ټیلیفون له لارې تر سره شوی وي او په نږدې راتلونکي کې په لیکلي بڼه هم تصدیق شوی وي، ومني.

11. **مالي مکلفیت:** د پیشکی د بیاورکړې مبلغ، پوراینې او یا هم د دافغانستان بانک د پور اخیستونکي نورو مالي مکلفیتونو ته ویل کیږي چې د سررسید نیټه یا رسیدلې وي او یا هم رسیدونکي وي.

12. **د شپې امانتونه:** د افغانی هغه ټکټانه لرونکي بیلانس ته ویل کېږي چې د دې مقررې د یوولسمې برخې پر بنسټ د یو بانکي اداري لپاره له د دافغانستان بانک سره ساتل کېږي.

13. **د پالیسی نرخ:** د ټکټاني نرخ ته ویل کېږي چې د دافغانستان بانک لخوا ټاکل کیږي، څو د شپې پیسو د کاروني کچه چې د د افغانستان بانک یې د بیو د ثبات لپاره مناسبه ګڼي، ښکاره کړي.

## دوه یمه برخه: په عمومي توګه د پور ورکړه

**۱،۲،۱: یوې بانکي اداري ته د مخه (پیشکي) ورکړې:**

(الف) د دافغانستان بانک د دې مقررې د دریمې برخې پر بنسټ کولای شي چې یو ې بانکي اداري ته د یو مخکي ورکړل شوي تضمین له لارې چې بانک ته د منلو وړ وي، پور ورکړي.

(ب) د یوې بانکي اداري هغه پیشکي چې د دافغانستان بانک لپاره د منلو وړ وي او د تضمین له یو ډول سره چې د 3.1.1 د اصطلاحاتو په برخه کې پورته یاد شوي دي، سره سمون ولري، تأمین شي.

(ج) د دافغانستان بانک هیڅ ډول د مخه ورکړه (پیشکي) چې د ورکړې اصلي نیټه یې تر 91 ورځو ډیره وي، نه ترسره کوي.

**۲،۲،۱: د د مخه (پیشکی) پر وړاندې د مکلفیت نه شتون:**

د دافغانستان بانک د دې مقررې د 2.3.1 او 3.3.1 موادو پربنسټ د هر بانکي اداري پر وړاندې د پیشکي د جوړولو، زیاتولو، نوي کولو، او یا هم غځولو په برخه کې هیڅ ډول مالي مکلفیت نلري. د دافغانستان بانک د دې مقررې د 1.3.1 مادي له مخې کولای شي چې د هرې بانکي اداري د پیشکی د جوړولو، زیاتولو، نوي کولو، او یا هم غځولو پرېکړه هغه مهال رد کړي چې د دې بانک د پور اسانتیاوو اړتیاوې یې بشپړې کړې نه وي.

**۱،۲،۳: معلوماتو ته اړتیا:**

د دافغانستان بانک کولای شي چي له دې څخه ډاډ ترلاسه کړي چي آیا د پیشکي لپاره د تضمین په توګه وړاندې شوې شتمنی د منلو وړ دي او دا چي پوراخیستونکی له ورکړل شوي پور څخه په هغه توګه کار اخلي چي له دې مقررې سره مطابقت ولري او هر ډول معلومات چي ورته مناسب او مطلوب وي، غوښتنه دې وکړي.

**درېیمه برخه: د پور شتون او شرایط:**

**۱،۳،۱ :د پور اعتباري اسانتیاوې**

د دافغانستان بانک د شپې پر بنسټ پور د مالي ملاتړ په توګه هغه بانکي اداري لپاره ورکوي چي د دافغانستان بانک له نظره د ښه مالي وضعیت څخه برخمن وي. په عادي توګه پور اخیستونکي ته په ډېر لږ اداري فشار سره ورکول کېږي. یوه بانکي اداره کولای شي چي دغه پور د یوې میاشتي په 15 ورځو کي وکاروي او یا هم کولای شي چي د دافغانستان بانک له موافقي سره سم د هغې میاشت په نورو اضافي ورځو کي وکاروي. هغه پور چي د پور د پروګرام پر بنسټ غځول کېږي د اعتباري اسانتیاوو په نرخ کي ورته پور ورکول کیږي. د دافغانستان بانک پانګه ایزې پانې د پور د اعتباري اسانتیاوو لپاره د تضمین په توګه منل کیږي. د دافغانستان بانک وخت په وخت کولای شي څو د دې اسانتیاوو د تضمین لپاره د تضمین اضافي صنفونو ته اجازه ورکړي.

**۱،۳،۲: د پور ورکولو وروستی مرجع**

په ځانګړو شرایطو کي د دافغانستان بانک د یوې بانکي اداري لپاره او یا هم د یوې بانکي اداري د ګټې لپاره پور موده په لاندي حالاتو کي غځوي چي:

(الف) د دافغانستان بانک له نظره بانکي اداره باید د پور د بیا ورکړې وړتیا ولري او د پور د خوندیتوب لپاره مناسب/کافي تضمین وړاندې کړای شي او د مالي مرستي په موخه د هغه غوښتنلیک باید د سیالیت د ښه والي لپاره د هغه د اړتیاوو پر بنسټ وي؛ او یا هم

(ب) دا ډول مرستي د مالي نظام د ثبات لپاره ډېرې اړیني دي او د مالیې وزیر وروسته له هغې چي ورته د دافغانستان بانک لخوا په دې اړه کوم وړاندیز وسپارل شي په 24 ساعتو کي له دې ژمني سره موافقه کوي. یوه بانکي اداره چي د مرستي او ملاتړ په لټه کي دی باید د دافغانستان بانک ته د خپل پروګرام شرحه وړاندې کي چي دا بانکي اداره د سیالیت د ښه والي او د بازار پر تمویلي سرچینو باندې د اتکاء د راستنیدلو د وړتیا لپاره هغه تعقیبوي. هغه ملاتړ او مرسته چي د دافغانستان بانک لخوا د پور ورکولو د وروستی مرجع په توګه وړاندې کېږي، موده یې له 91 ورځو زیاته نه وي. د پور تضمین باید د دافغانستان بانک لپاره د منلو وړ وي او د تضمین له پورته یادې شویو ډولونو چي په 3.1.1 اصطلاحاتو برخه کي درج شوي، سره سمون ولري، تأمین شي، خو دا چي د دافغانستان بانک پریکړه وکړي چي یو ناتأمین شوې ژمنه د ځانګړو شرایطو او د اصلاحي سنجشونو د منلو وړ پروګرام لاندي توجیه کړي. د دافغانستان بانک کولای شي چي د خپل واک/صلاحیت پربنسټ د ملاتړ او مرستي لومړنی موده وغځوي.

**۱،۳،۳: اضافه برداشتونه (Overdrafts)**

یوه بانکي اداره اجازه نلري ترڅو د ورځي او یا هم د شپې لخوا د دافغانستان بانک سره له یو حساب څخه اضافه برداشت وکړي. ټول پورونه باید د پیشکی له لارې د دې مقررې د 3.3.1 او 2.3.1 موادو پر بنسټ ترسره شي. که چېرې د یوې بانکي اداري په حساب کي یو اضافه برداشت ترسره شوی وي نو بانکي اداره باید ژر تر ژره دغه اضافه برداشت په هغه حساب کي چي ترې ترسره شوي وي، د بېرته اضافه کولو له لارې سم کړي او د اضافه برداشت مبلغ باید د هغې ورځي او یا هم ورځو لپاره چي دې بانکي اداري سره وي د منفي مبلغ په توګه د خپل جاري حساب د زېرمو د التزاماتو په راپور کي د دافغانستان بانک ته وړاندې کړي.

د دافغانستان بانک کولای شي هغه لاربښوونه رد کړي چې په یو حساب کې د اضافه برداشت د ترسره کیدو لامل شوی وي او هم کولای شي د اضافه برداشتونو لپاره جریمې چې د دافغانستان بانک د نورو مقرراتو سره سمون ولري، تحمیل کړي.

**څلورمه برخه: پر ورکړل شوي پور باندې د تطبیق وړ د ټکټانې نرخونه**

**۱,۴,۱: د پور اعتباري اسانتیاوې**

د پور نرخ چې بانکي ادارو ته د دې مقررې د 1.3.1 موادو پر بنسټ برابرېږي له هغه نرخ څخه عبارت دی چې د پولي سیاست د کمیټې له وړاندیز څخه وروسته د دافغانستان بانک د عالي شورى لخوا د پور لپاره ټاکل کیږي. د دافغانستان بانک کولای شي چې په دې نرخ کې هر وخت بدلون راولي او هغه د اغیزمنتیا له نیټې څخه مخکې په جلا جلا توګه خپاره کړي.

**۲,۴,۱: د پور ورکولو د وروستی مرجع د پور په اړه د ټکټانې نرخ تعیینول**

هغه نرخ چې د دافغانستان بانک لخوا د مرستې او ملاتړ لپاره د پور ورکولو د ورستی مرجع په توګه د دې مقررې د پورته یادو شویو 2.3.1 موادو پربنسټ د دافغانستان بانک لخوا د هغه د اعتباري اسانتیاوو د نرخ په اړه ټاکل شوی دی.

**پنځمه برخه: د پیشکی غوښتنه او منظوري:**

**۱,۵,۱: غوښتنه**

له د دافغانستان بانک څخه د پیشکی غوښتنه باید په ټاکلي وخت او د بانک د کاري ورځې له پای ته رسیدو وخت (15:00) څخه مخکې وشي او د دافغانستان بانک ته د منلو وړ تضمین له لارې چې باید پورته د3.1.1 اصطلاحاتو په برخه کې درج شوی وي،، تأمین شي. د دافغانستان بانک له خپل بشپړ صلاحیت سره دا حق لري چې پور اخیستونکي دې ته اړ کړي تر څو د دې مقررې د 1.3.1 یا 2.3.1 موادو پر بنسټ د پیشکی لپاره په لیکني بڼه غوښتنه وکړي او یا هم د پوراینې یو سند او/یا نورې اړوندې موافقې یا اضافي هر وخت د پیشکی په اړه ترسره کړي.

۲,۵,۱: **منظوري او راتلونکې پیسې**

د پیشکی له منظورۍ وروسته، د دافغانستان بانک د پیشکی مبلغ د پوراخیستونکي په حساب کې چې له بانک سره دی، زیاتوي. د منظور شوي پور مبلغ د دافغانستان بانک د کاري ورځې تر پای ته رسیدو پورې د پور اخیستونکي په واک کې ورکول کیږي.

**شپږمه برخه: ټکټانه:**

**۱,۶,۱: د ټکټانې زیاتېدنه:**

د پور اخیستونکي په حساب کې د پیشکی له کریډټ کیدو څخه وروسته د ټکټانې زیاتېدل پیل کېږي او د هماغې ورځې د اجراء وړ په نرخ کې، د ورکړې وړ دی. که چېرې د پیشکی له تصفیې څخه مخکې د ټکټانې په نرخ کې بدلون راشي نو بیا د ټکټانې نوی نرخ له هماغې ورځې څخه چې په کې د ټکټانې نرخ بدلون موندلی، د اجراء وړ دی. ټکټانه په یو کال کې د 360 ورځو پر بنسټ محاسبه کېږي.

**۱,۶,۲: پر نا ورکړل شویو/پاتي پیشکیو باندي ټکټاني**

که چېرته د پیشکی د بیا ورکړي ټول ملبغ یا هم یوه برخه د هغه د سر رسید (ورکړي) په نیټه کي (یا د بهير د چټکتیا او یا هم د کوم بل ډول له امله ) ورکړل شوي نه وي، د پیشکی د بیا ورکړي د مبلغ پر نا ورکړل شوي برخي باندي له اجراء وړ نرخ څخه 0.50 سلنه زیاته ټکټانه تر هغه مهاله پوري چي ناورکړل شوی مبلغ په بشپړه توګه نه وي تصفیه شوی، د ورکړي وړ دی.

**اوومه برخه – د پیشکی بیا ورکړه:**

**۱,۷,۱: د ټکټاني زیاتېدل**

پور اخیستونکی ژمنه کوي چي د پیشکی د بیا ورکړي مبلغ به د هغه د ورکړي په نېټه کي مله هغو پیسو څخه چي په یو ناڅاپي ډول يي ترلاسه او یا هم راټولي کړي وي، ورکړي. د پیشکی د بیا ورکړي د سررسید نېټه په لاندي شرایطو د ورکړي وړ ده:

(الف) د تقاضا په صورت کي؛ یا

(ب) که چېري هیڅ ډول تقاضا شوي نه وي، نو د پیشکی د بیا ورکړي مبلغ د هغه د سررسید (بیا ورکړي) په نېټه کي چي د دافغانستان بانک لخوا په لیکني بڼه ټاکل شوي وي، د ورکړي وړ دی، خو دا چي د پیشکی د بیاورکړي د مبلغ د سررسید نیټه او د هغه وخت ټاکل شوی نه وي، نو د پیشکی د بیا ورکړي د مبلغ د ورکړي (سررسید) نېټه یوه ورځ وروسته له هغي ورځي چي په کي پیشکي ورکړل شوي او بیا د بانکي اداري په حساب کي زیاته شوي ده، د ورکړي وړ ده؛ او یا هم

(ج) د دافغانستان بانک په صلاحیت د پیشکی د بیا ورکړي مبلغ د نه ورکولو په صورت کي پرته له دي چي تقاضا شوي او یا هم نه وي شوي، د ورکړي وړ دی.

**۱,۷,۲: د بیا ورکړي تقاضا**

که چیري د دافغانستان بانک د پیشکی د بیا ورکړي د مبلغ د ورکولو تقاضا وکړي، ټولي پوراینې او نور مالي مکلفیتونه له کومي خبرتیا او یا هم مخکني تقاضا پرته، له ځنډه پرته د ورکړي وړ دي.

**۱,۷,۳: د پور اخیستونکي له حقونو څخه سترګي پټول**

که چیري د دافغانستان بانک له پور اخیستونکي څخه د پیشکی د بیا ورکړي د مبلغ د ورکړي غوښتنه وکړي، نو بیا پور اخیستونکي کولای شي چي خپل هر حق لکه د بي احترامی، نیوکي د خبرتیا او نوري خبرتیاوي چي د پیشکی د بیا ورکړي مبلغ او پوراینو په ورکړو پوري تړاو لري، وکاروي.

**۱,۷,۴: مخکي ورکړه**

پور اخیستونکي کولای شي یو پیشکي د دي مقرري د 1.3.1. او 2.3.1 موادو پربنسټ (د مخکي ورکړي مبلغ له پاتي او نا ورکړل شوي ټکټاني سره یو ځای) په ټولیزه توګه او یا هم د هغه یوه برخه له کومي جریمي پرته ورکړي.

**۱,۷,۵: د بیا ورکړي طریقه/روش**

د دافغانستان بانک د پیشکی د بیا ورکړي مبلغ د هغه د ورکړي (سررسید) په نیټه کي د پور اخیستونکي له حساب څخه وضع کوي.

**۱,۷,۶: د پیسو د کمښت په صورت کې د بیا ورکړې طریقه/روش**

که چیرې پور اخیستونکي پوهیږي او یا هم باید پوهیدلی چې د ورکړې په نیټه کې د هرې پوراینې او یا هم د پیشکی د بیا ورکړې مبلغ لپاره د هغه حساب په کافي اندازه هغه پیسو ته چې په چټکتیا سره په لاسرسی کې وي او هم په پای کې راټول شوي وي، ونلري نو بیا باید د مبلغ د بیا ورکړې لپاره د دافغانستان بانک د رضایت سره سم ترتیبات تر لاس لاندې ونیسي.

**اتمه برخه: د تضمین د ټکټانې ورکړه:**

**۱,۸,۱: د تضمین د ټکټانې د ورکړې معنی**

د ترلاسه شوي ارزښت او د دافغانستان بانک لخوا پور اخیستونکي ته د پیشکی او یا هم د پوراینې د ترلاسه کولو په موخه د اجازې په پام کې نیولو سره، پور اخیستونکي د دافغانستان بانک سره ژمنه کوي چې د دوامداره تضمین د وړاندې کولو له لارې لکه ټکټانه د رهن پر حق او یا هم د هر ډول مالي مکلفیت لپاره د تضمین پر وړاندې جبران چې اوس مهال او یا هم په راتلونکي کې وي، تأمین کړي.

**۱,۸,۲: د دافغانستان بانک لپاره نور زیات تضمینونه**

د هر ډول شته یا راتلونکي مالي مکلفیت (پوروړتیا) پر وړاندې د لا زیاتو تضمینونو په موخه، پوراخیستونکی د دافغانستان بانک ته خپل ټول حقونه، قباله او د ملکیت ټکټانه که هغه اوس تر مالکیت لاندې وي یا په راتلونکي کې ترلاسه کېږي او د دافغانستان بانک په واک یا کنټرول کې وي چې په دې ډله کې د پانګې اچونې ملکیت (لکه د هغو تضمینونو په ګډون چې مخکې په هغه باندې ژمنه شوي نه وي)، هغه توکي چې د راټولیدو په حال کې وي او له هغه څخه ترلاسه شوي عواید/ګټې او د دافغانستان بانک سره د پوروړي شخص هر ډول بیلانس رانغاړي (چې دې مواردو پورې نه محدودیږي)، په تضمین ورکوي.

<u>**نهمه برخه: تضمین:**</u>

**۱,۹,۱: د تضمین مهال ویش**

د پیشکی د بیا ورکړې مبلغ باید د تضمین له ډولونو څخه د یو ډول او یا هغه مبلغ له لارې چې د دافغانستان بانک لپاره د منلو وړ وي، تأمین شي. که چېرې د دافغانستان بانک لخوا لازمه وګڼل شي، تضمین باید د هغه په موده ایز جدول (مهال ویش) کې په هغه طریقه چې د دې بانک لخوا ځانګړی شوی، وپیژندل شي. د تضمین مهال ویش باید په دوامداره توګه وساتل شي او د دافغانستان بانک له لارښوونو سره سم نوی شي.

**۱,۹,۲: د تضمین مالکیت**

که چیرې د دافغانستان بانک موافق وي او یا هم نه وي، پور اخیستونکی باید تضمین د دافغانستان بانک یا هم د هغه متولي ته په هغه بڼه او طریقه چې د دې بانک لخوا ځانګړی شوی، تحویل یا ولېږدوي.پوروړی شخص باید د تضمین هر یو توکی چې د دافغانستان بانک او یا هم د هغه متولي ته تحویل یا لیږدول شوی نه وي، د دافغانستان بانک د اعتماد ساتلو په موخه تر هغې مهاله پورې چې دې بانک ته تحویل یا لیږدول شوی نه وي، د دافغانستان بانک له لارښوونو سره سم، د امانت په توګه له ځانه سره وساتي.

**۳,۹,۱: پور اخیستونکی باید د خسارې خطر جبران کړي**

پور اخیستونکي د هغه تضمین د خسارې زیان په غاړه اخلي چې د پور اخیستونکي په واک کې او یا د دافغانستان بانک ته او یا هم له د دافغانستان بانک څخه د لېږد پر مهال رامنځ ته کېږي. همدا ډول پور اخیستونکي د هغه تضمین پر وړاندې د هر ډول ناڅاپي زیان یا خسارې خطر هم په غاړه لري چې د دافغانستان بانک په واک کې وي او د دافغانستان بانک د هغه تضمین په برخه کې ښه پاملرنه کړې وي.

**۴,۹,۱: اضافي تضمین**

د دافغانستان بانک د دې حق لري چې په پیل کې د هغه تضمین غوښتنه وکړي چې د هغه د بازار اوسنی ارزښت د ټاکلې سلنې پر بنسټ د پیشکی د بیا ورکړې له مبلغ څخه زیات وي. که چیرې د پیشکی د مودې په اوږدو کې د تضمین د بازار ارزښت د هغه د پیل د مودې له ارزښت څخه کم وي، د دافغانستان بانک د دې حق لري چې له پور اخیستونکي څخه د اضافي تضمین غوښتنه وکړي. که چیرې تضمین په ټاکلي وخت جوړ نه شي، د دافغانستان بانک د پورته یاد شوي د اوومې برخې له مخې د دې حق لري څو د سم دلاسه بیا ورکړې غوښتنه وکړي.

**<u>لسمه برخه: د پور د نه ورکړې په صورت کې د حل لارې:</u>**

**۱,۱۰,۱: هغه طریقې چې د دافغانستان بانک لخوا د حل لارو په توګه کارول کېږي**

که چیرې د پور د نه ورکړې پېښه رامنځ ته شي، د دافغانستان بانک کولای شي چې لاندې حل لارې په جلا ، پر له پسې او یا هم په سمه توګه، ترلاس لاندې ونیسي:

(الف) که چیرې د پیشکی د بیا ورکړې مبلغ سمدلاسه د ورکړې وړ وي، باید ورته مبلغ سم د لاسه پرته له کومې مخکینی خبرتیا یا غوښتنې د ورکړې وړ مبلغ په توګه اعلان شي او د هغه پر بنسټ د پور اخیستونکي له حساب څخه وګرځول شي، خو دا چې د پیشکی د بیا ورکړې د مبلغ د ورکړې نېټه رارسیدلې وی؛

(ب) د دافغانستان بانک لخوا پوراخیستونکي ته د هر مبلغ او یا مالي مکلفیت زیان ورکول چې د هغې د پای نېټه رسیدلې وي او یا هم رسیدلې نه وي.

(ت) د بانکر لخوا د رهن او یا د جبران د هر ډول حق چې د پوروړي د ملکیت پر وړاندې د قانون پر بنسټ د تنفیذ وړ او د دافغانستان بانک په مالکیت یا کنټرول کې وي، برابرول چې د هغه د راټولیدو په بهیر کې له هغه څخه ترلاسه شویو عواید او د دافغانستان بانک سره د پوروړي (پور اخیستونکي) د هر ډول د کریډټ بیلانس رانغاړي (خو دې مواردو پورې محدود نه پاتې کېږي)، وکاروي.

(ث) د هر ډول تضمین ملکیت چې له مخکې څخه د دافغانستان بانک په واک کې نه وي، باید له غوښتنې او قانوني پروسې پرته ترلاسه شي. پور اخیستونکی د دافغانستان بانک ته د دې لپاره حق ورکوي چې په هر ډول ملکیت کې چې په هغه کې تضمین شتون ولري، داخل شي؛ او

(ج) د خسارې د جبران هر ډول حل لارې چې په قانون او یا د هغه د مالکیت په حقونو کې شتون ولري، باید تعقیب شي چې د پور ورکوونکي شخص حقونه د خوندي پور ورکونکي په توګه د هغه تضمین د عوایدو راټولول رانغاړي چې تضمین یې د دافغانستان بانک سره وي او یا هم نه وي.

**۱,۱۰,۲: د پور اخیستونکي لخوا د وکیل په توګه د دافغانستان بانک ټاکل کیدل**

پور اخیستونکي د دافغانستان بانک د بدیل په توګه له بشپړ واک سره د خپل واقعي او قانوني وکیل په توګه ټاکي، د پور اخیستونکي پر ځاي د دافغانستان بانک له بشپړ صلاحیت او واک سره هر لوري ته د تضمین د تأئیدولو، اختصاص کولو، لیږدولو، تسلیمولو او یا هم د هر ډول اړین ګام د پورته کولو لپاره چې د دافغانستان بانک یې لازم ګني او یا هم د ترسره کولو مشوره یې ورکوي ترڅو د دې بانک ګټې خوندي او یا هم د دې مقررې لاندې له خپلو حقونو څخه ګټه پورته کړي.

<u>**یوولسمه برخه – د شپې امانتونو اسانتیاوې:**</u>

**۱,۱۱,۱: د ټکټاني نرخونه**

د دافغانستان بانک کولای شي هغه اسمي امانتونه چې په افغانی ترسره کیږي، د یوې ورځنې سررسید له نېټې سره ومني. د شپې په امانتونو ټکټانه په هغه نرخ کې چې د پولي سیاست د کمیټې له وړاندیز څخه وروسته د دافغانستان بانک د عالی شورې لخوا د هغه لپاره ټاکل شوی او د امانت ایښودنې پر ورځ د اجراء وړ دی، زیاتېږي.

**۱,۱۱,۲: د شپې د امانتونو په حساب کې د لېږد لپاره غوښتنه؛ (د ورکړې په نیټه کې)**

د شپې د امانتونو لپاره غوښتنه باید د دافغانستان بانک څخه په لیکنې بڼه او د بانک د کاري ورځې له پای ته رسیدو وخت څخه مخکې (15:00) وشي. د بلې کاري ورځې په پیل کې، امانتونه د ورکړې وړ ګڼل کېږي. د شپې د امانتونو لپاره غوښتنه چې څو ورځو ته تمدید شوې وي باید د هرې کاري ورځې په پای کې د هغه د تجدید له لارې، چمتو شي.

**۱,۱۱,۳: د شپې امانتونه "مطلوبی شتمنی" نه دي**

د یوې بانکي اداري د شپې د امانتونو مبلغ د پولي سیاست د زېرمو د اړتیاوو د بشپړولو لپاره مطلوبی شتمنی، نه ګڼل کیږي.

**دوولسمه برخه: د مقررې د نافذیدو نېټه**

**۱,۱۲,۱: د دافغانستان بانک د عالي شورى لخوا منظوري**

دغه مقرره د دافغانستان بانک د عالي شورى له منظورۍ وروسته د پلي کیدو وړ ده. د اعتباري اسانتیاوو مقرره د دافغانستان بانک په ویب پاڼه کې هم خپره شوې ده.